# کرنیز ایکو سیستم

اولګل عابد

ایکو سیستم (Ecosystem ) یا د ژوند چاپیریالیز سیستم دبوټو، حیواناتو، کوچنیو ذربینی موجوداتو او د هغوی د چاپیریال ترمینځ د یو واحدی کاری برخی په توګه د فعالو اړیکو د شتون څخه عبارت دی، د نوموړی سیستم ټولی برخی یو پربل بسیا او د نه شلیدونکو اړیکو مجموعه ده،د ایکو سیستم دغه ژوندی او غیر ژوندی برخی له یوبل سره د غذایی سایکل او د انرژی د لیږد له امله یوله بل سره کلکه اړیکه لری، همدارنګه د یاد سیستم تحلیل د هر هغه څه د یوځای کولو لاره ده چی مونږ یی د مطالعه کولو وروسته د بیلابیلو فکتورونو په نظر کی نیولو سره د ګټوری تصمیم نیونی لپاره په کار اچوو. پورته خبرو ته په کتنی سره، د **کرنیز ایکو سیستم تحلیل** (Agro-Eco-System Analysis ) د ایکالوژی، ټولنپوهنی، اقتصاد او سیاست علومو ته د یوشان نظر په کولو سره د کرنیز چاپیریال د تحلیل په مانا دی. د بزګرانو ساحوی ښوونځی د کرنیز چاپیریال د تحلیل ترڅنګ د بزګرانو د ټیم جوړولو، پوهی ورکولو او تخنیکی مهارتونو لوړولو چی د ګروپ د ویش یا فعالی ساتنی (Group Dynamic ) په نامه یادیږی او همدارنګه د بزګرانو د ستونزو د حل په موخه د ځانګړی موضوع (Special Topic ) ترنامه لاندی فعالیتونه په خپل چوکاټ کی لری. پورته یاد موضوعات د ساحوی ترویجی کارکونکو لپاره په دی لاسی ښوونیز کتاب کی په تفصیل سره ځای پرځای شویدی، هیله ده چی د ساحوی کرنیزو ښوونځیو د اغیزمن پرمخ بیولو او تطبیق لامل وګرځی.




**د کرنیز ایکو سیستم برخی او اجزاوی:**

**A. *بیولوژیکی (ژوندی ) برخی***
- **نباتات/بوټی**
- **آفات**
  - ➢ حشرات
  - ➢ امراض
  - ➢ هرزه واښه
- **طبعی دښمنان**
  - ➢ مضره حشرات
  - ➢ پرازیتونه
  - ➢ پتوجنونه

**B. *فزیکی (غیر ژوندی) برخه***
- ➢ هوا
- ➢ خاوره
- ➢ اوبه

**(۱ ) انځور: د کرنیز ایکوسیستم مشاهده**

## I. د کرنیز چاپیریال سیستم تحلیل -

د بزګرانو ساحوی ښوونځیو (FFS ) موضوع ته په کتنه سره د کرنیز ایکوسیستم تحلیل د مشخصو او ځانګړو بوټود ژوندی چاپیریال څیړنه او تحلیل څخه عبارت دی، نوموړی تحلیل په دقت سره د کرنیزی فارم د څارنی او ارزونی لپاره تر سره کیږی او د بزګرانو د ساحوی ښوونځیو

د بنسټيزو کارونو څخه شمیرل کیږي، که چیرې د ساحوي ښوونځیو بزګران او د سهولت برابرونکي ترویجي کارکونکي د کرنیزچاپیریال د تحلیل په هکله اغیزمن ګامونه پورته نکړي، پایله به یې د داسې یو ټیټ کیفیت لرونکي ساحوي کرنیز ښوونځي شتون وي چې د بزګرانو د پوهې او مهارت په لوړولو کې هیڅ اغیزې ونلري، د نوموړو ښوونځیو اړونده بزګران باید د ترویجي سهولت برابرونکو لخوا په پرلپسې توګه تشویق شي ترڅو د کرنیز چاپیریال تحلیل فعالیت په سمه توګه سرته ورسوي.

د کرنیز چاپیریال تحلیل لاندې فعالیتونه:

- د کرنیز فارم/باغ څخه په دوامداره (هفته وار/دوه هفتې) توګه په منظمه توګه لیدنه کتنه؛ په پرتله ایزه توګه د بوټي د ودیزي مرحلې په اړوند د معلوماتو راټول،
- له نژندې څخه د فارم د کرنیزو بوټو/ونو او د هغوی په چاپیریال کې د شته ژوندیو او غیرژوندیو موجوداتو ترمینځ د دوه اړخیزه اړیکو مطالعه کول او مشاهده،
- په دقت سره د ساحې څخه د راټولو شویو مشاهداتو تحلیل او څیړنه او،
- د مشاهداتو د تحلیل او څیړنې څخه وروسته د ستونزو د حل په موخه د شریکو تصامیمو نیول.

## 1. د یو متوازنه کرنیز چاپیریال د تحلیل اجزاوې:

**Components of Balanced Agro-Ecosystem**

- په یو ځانګړې ساحه کې د بوټو شمیر او وده
- د موجوده بوټو د ودې حالت
- په ساحه کې د موجوده بیلابیلو انواعو ترمنځ تعاملات
- متقابلې اړیکې
- یو پربل تغذیه (Food-Web)
- د آفاتو او د هغوی د طبعي دشمنانو ترمنځ اړیکې
- د هرزه بوټو ارزښت
- د ژوندیو موجوداتو د بیلابیلو انواعو موجودیت او د هغوی په ژوند کې تغیرات (Biodiversity)

## 2. د کرنیز چاپیریال د تحلیل مقصد (Purpose of AESA)

د کرنیز چاپیریال د تحلیل اصلي موخه په کرنه کې عملي زده کړو او د نوښتونو پیژندنې ته وده ورکول دي او د دې ترڅنګ بزګرانو ته په خپله کرونده کې د غوره تحلیل او تصمیم نیونې په لور لارښوونه ده. په کرنیزو ساحوي ښوونځیو کې د نوموړې تحلیل څخه پرته هم بزګران د دې وړتیا پیدا کوي چې څرنګه نباتات وروزي خو بزګران به د فارم د منظمې څارنې، د نباتاتو د سیستماتیکې مشاهدې او دقیق تحلیل په هکله مهارتونه ترلاسه نکړي. د کرنیزچاپیریال د تحلیل په اړوند د مهارتونو د نه درلودلو په نتیجه کې به بزګران د دې استعدادونلري چې د خپلې کروندې په هکله باخبره تصامیم ونیسي. همدارنګه د کرنیز چاپیریال د تحلیل نشتوالې د دې سبب هم کیدلی شي چې د کرنیزو ساحوي ښوونځیو بزګران په ځان باندې د باور پیداکیدو چانس له لاسه ورکوي ترڅو خپل نظریات او لاسته راوړنې نورو بزګرانو پروړاندې ښکاره کړي او هم د راتلونکې لپاره د ستونزو د حل لارې چارې ولټوي او شریک تصامیم ونیسي. په پای کې ویلی شوی چې د کرنیز چاپیریال تحلیل د بزګرانو څخه د باتجربه بزګرانو د جوړولو بهترینه لاره ده (د کرنیزچاپیریال د تحلیل نشتوالی د باتجربه بزګر د نشتوالی مانا لري).

## 3. د کرنیز چاپیریال د تحلیل لپاره مواد ( Materials Required for

(AESA

کله چې د کرنیزو ساحوی ښوونځیو سهولت برابرونکی ترویجی کارمندان غواړی چې په نوموړی ښوونځی د ترنینګ لپاره پلان جوړ کړی نو حتمی ده چې د اړینو توکو او مواد په اړه ځان باوری کړی.

### 4. د بوټو نمونه اخستل ( Sampling of plants )



د مشاهدی او اندازه ګیری په منظور باید په هره پلاټ یا تجربه کی دوه یا دری بوټی د بیلګی په توګه باید په نښه شی. په نښه شوی بوټی باید د کرنیز ساحوی ښوونځی تر وروستنی مودی پوری و څارل شی،که چیری په نښه شویو بوټو څخه کوم یو یي زیانمن یا له مینځه لاړشی بیا هم د همغه له مخی بل بوټی باید وټاکل شی، د بوټو د نمونو د ټاکلو لپاره یو لړ زیات میتودونه او لاری وجود لری دبیلګی په توګه: د پچی اچولو میتود په مرسته د یو نمبر ټاکنه چی دلته د ټاکل شوی پلاټ یا تجربی د کونج یا د سر له قطار څخه بوټی شمیرل کیږی، د بیلګی په توګه که په نوموړی میتود کی ټاکل شوی نمبر (۴) وی نو په پلاټونو کی هر څلورم بوټی باید وټاکل شی، همدارنګه د بوټو بدنی ودی ته په کتنی سره باید د ښی ودی لرونکی، منځنی ودی لرونکی او کمی ودی لرونکی ځایونو څخه د بوټونمونی وټاکل شی. د بیلګی په توګه: د ښی ودی لرونکی بوټو د برخی څخه د یو بوټی ټاکنه، د کمی ودی لرونکی بوټو د برخی څخه د یو بوټی ټاکل او منځنی ودی لرونکی بوټو د برخی څخه هم د یو بوټی ټاکل د مشاهداتو او اندازه ګیری لپاره تر سره کیږي.

### 5. د کرنیز چاپیریال د تحلیل (ایسا) پړاوونه (AESA Steps)

په اونی یا دوه اونیو کی د کرنیز چاپیریال د تحلیل غونډه یا مجلس څلور پړاوونه لری:

1. په ساحه کی د کرنیز چاپیریال تحلیل ترسره کول (د ساحی څخه مشاهدات او معلومات راټولول)،
2. د کرنیز چاپیریال د تحلیل معلومات پروسس کول ( د مشاهداتو او معلوماتو څیړنه)،
3. د ساحی د معلوماتو وړاندی کول (د ښوونځی د نورو غړو سره د ساحی څخه د راټولو شویو او پروسس شویو مشاهداتو شریکول)،
4. د کرنیز چاپیریال د تحلیل څخه وروسته د معلوماتو په رڼا کی شریک بحث کول (ګډ بحث او تصامیم نیول).

### 5.1په ساحه کی د ایسا ترسره کول (AESA taking )

په ټاکل شوی ساحه کی د کرنیز چاپیریال د تحلیل د ترسره کولو په نتیجه کی مشاهدات تر سره کیږي او د بزګرانو د وړو ګروپونو په وسیله معلومات راټولیږي. نوموړی تحلیل باید په لمړنی قدم کی په عملي توګه د ترویجی سهولت برابرونکو پواسطه ترسره شی او وروسته بیا د بزګرانو د ساحوی ښوونځی د کوچنیو ګروپونو څخه یوکس چی پدی هکله نورو څخه زیات معلومات لری همدغه تحلیل د خپل ګروپ سره پرمخ بیایی،دا ډیره مهمه ده چی د ګروپ غړی باید په نوموړی تحلیل کی برخه واخلی، د کرنیز ساحوی ښوونځی په چوکاټ کی د بزګرانو د کوچنیو ګروپونو نشتوالی په عملی کارونو کی د کمی برخی اخستنی سبب کیږی او د ګروپ زیاتره غړی د عملی کار څخه بی برخی پاتی کیږي، د بزګرانو هر کوچنی ګروپ ټاکل شوی ساحی ته ځی او په ساحه کی د کرنیز حالت په هکله اړین مشاهدات او معلومات راټولوی چی په نتیجه کی لاندی معلومات لاسته راځی:

- د بوټو د ودی اندازی;

- د زیان رسونکو او ګتور حشرو شتون او د شمیر اندازي
- هرزه بوټي او د هغوی پوښل شوی ساحی اندازه;
- امراض/آفات او دهغوی مهموالی;
- د خاوری حالت: وچه، وتره، خټه، نور.;
- د هوا حالت: لمریزه، باد لرونکی، بارانی، وریځ، نور.; او
- په ټاکلی مرحله کی د نبات عمومی صحی بڼه او حالت.

باید په یاد ولرو چی د بزګرانو هر کوچنی ګروپ کله چی د ټاکلی ساحی څخه لیدنه کوی له ځانه سره به د لیکنی یو کتابچه ولری ترڅو د پورته یاد شوی معلوماتو په اړوند ریکارډ واخلی. د بزګرانو هر کوچنی ګروپ هره اونی باید د فارم د بیلابیلو تجاربو څخه لیدنه وکړی، پدی ډول به ټولو بزګرانو ته زمینه برابره شی ترڅو د ببلابیلو تجاربو څخه د معلوماتو په راټولولو کی برخه واخلی. دا یوه عامه خبره ده چی ځینی وختونه بزګران د ایسا د ترسره کولو څخه غاړه غړوی او وایی چی د بوټو څخه د معلوماتو راټولول اړین ندی، یوازی د بوټو وده مشاهده کول بس نه دی **“دا په یاد ولرئ د ایسا پروخت د معلوماتو راټولو څخه موخه یوازی مشاهدات او د معلوماتو راټولول ندی”**. په لاندی توګه د هغه لاملونو څخه یادونه کیږي چی د ایسا د ترسره کولو پرمهال د بوټو څخه د معلوماتو راټولول اړین کوی:

- د بیلابیلو تجاربو ترمنځ د ودی د حالت پرتله کول.
- د بوټو د ودی د پروسی په هکله د ځان پوهونه .
- له ډیر نزدی څخه د بوټو مشاهده او مطالعه کول.

د ایسا د ترسره کولو پرمهال بزګران د بوټو آفات او امراض پیداکوی او ترڅنګ یی ګټوری حشری هم پیژنی او مطالعه کوی یی. دا هم ډیره مهمه ده چی د بزګرانو د ساحوی ښوونځیو غړی د ایسا د ترسره کولو فعالیت د ځینو نورو فعالیتونو لکه د هرزه بوټو کنترول او آبیاری سره نه ګډوی. د فارم کرنیز فعالیتونه (هرزه بوټو کنترول، آبیاری، د حشره وژونکو استعمال او نور) په هکله د عمل لپاره چی باید د ایسا د ترسره کولو او معلوماتو د شریکولو د غونډی څخه وروسته کله چی د ښوونځی غړی په ټاکلی فارم کی د شته ستونزو او د هغوی د مخ نیوی په اړوند خپل نظریات شریکوی او داچی د عمل څخه دمخه څه وشی، تصامیم ونیول شی. په فارم کی د ایسا د ترسره کولو (مشاهداتو او معلوماتو راټولولو) پرمهال د وخت د اندازی ټاکل ډیر اړین دی ځکه کیدی شی بزګران د مشاهداتو او معلوماتو په راټولولو کی دومره مصروف شی چی وخت یی له یاده وځی.

## د ایسا د ارقامو تحلیل او تجزیه (AESA Processing )

په ساحه کی د ایسا د ترسره کولو څخه وروسته چی کوم مشاهدات او ارقام راټولیږی د تحلیل او څیړنی څخه وروسته د ایسا د چارټ پوسیله نورو بزګرانو ته ارایه کیږي او د شریک بحث په پایله کی باخبره تصامیم نیول کیږي، د ساحوی ښوونځی اړونده د بزګرانو ټول کوچنی ګروپونه کومو چی د ساحی د مشاهداتو او ارقامو په راټولولو کښی برخه اخیستی باید په شریکه د ارقامو تحلیل او تجزیه سرته ورسوی او خپلو مشاهداتو او لاسته راوړنو ته انعکاس ورکړی.

**(۳) انځور: په کرنیزو ښوونځیو کی د آیسا پرمهال د راټولو شویو معلوماتو تحلیل او له نورو سره شریکول**

د ایسا چارټ په خپل چوکاټ کی لاندی اته (۸) برخی لری:

1. ***پیژندنه:*** د پیژندنی برخه په کوم کی د کرنیز ښوونځی نوم، د کوچنی ګروپ نوم، د ایسا شمیره، د اونی شمیره، او نیټه؛
2. ***عمومی اګرانومیکی معلومات:*** د بوټی انواع/ورایټی، د تجربی میتود، د تجربی چلند، د تخم د کر/نهالشانی نیټه، د هوا

حالات، د لیدنی یا مشاهدی وخت او نور.؛

3. **د ایسا ارقام:** د اندازه گیری پارامیترونه چی عبارت د بوټی د لوړوالی، چاراطراف، د پاڼو پلنوالی او ږدوالی، د شاخونو شمیره او نور چی د گروپ د غړو ترمنځ پری موافقه شوی وی.
4. ***د نبات انځور؛***
5. ***آفات؛***
6. ***گټور حشرات؛***
7. ***مشاهدات؛ او***
8. ***وړاندیزونه.***



## د ایسا د چارټ جوړښت او شکل (AESA Chart Preparation)

د ایسا چارټ د ساحوی ښوونځی د بزگرانو تعلیمی سویی ته په کتنه سره باید په ساده توگه جوړ کړل شی. که چیری د ښوونځی ډیر شمیر غړي په لیکنه کی ستونزی ولری نو د ایسا چارټ په جوړولو کی زیات وخت لگیږی، د نوموړی چارټ په جوړښت کی د لیکنی پرځای رسامی کول هم جواز لری د بیلگی په توگه کمه لیکنه او زیات انځورونه جوړول، په هر صورت، نوی برخه وال باید د تجربه لرونکو برخه والو څخه په چارټ کی د بدلون، کمولو او زیاتولو لپاره پوښتنی وکړی، د ایسا چارټ باید کمه لیکنه او زیات انځورونه ولری ترڅو د ټولو لپاره د پوهیدلو وړ وی، همدارنگه په چارټ کی د ژوندیو حشراتو او بوټو د ډولونو ځای پرځای کول هم امکان لری، د ایسا انځوریز چارټ بی سواده بزگرانو ته زمینه برابروی چی په بحث کی زیاته برخه واخلی. بی سواده بزگران تل هڅه کوی چی د گروپ تر شاه یو طرف ته ودریږی او په ایسا کی برخه وانخلی. ځرنگه چی بی سواده بزگران لیک لوست نشی کولای خو د دي توانایی لری چی د انځورونو په جوړولو او د هغوی په هکله خپل نظر شریک کړی. د کرنیز ښوونځی سهولت برابرونکی (ترویجی مامور) د بی سواده بزگرانو نظرونه پوښتنی د ایسا په چارټ کښي ځای پر ځای کوی. کله چی د ښوونځی سهولت برابرونکی د ایسا د ارقامو د راټولولو او تحلیل پر وخت د بزگرانو کمه ونډه اخیستنه مشاهده کړی نو په مهارت سره دی د بزگرانو د کوچنی گروپونو غړی په ځانگړی توگه بی سواده بزگران گډ کار کولو د بیلگی په توگه انځور رسمول، د حشراتو نمونی راټولول، په بحث کی گډون او وړاندیزونو شریکولو ته تشویق کړی. د لمړنی پړاو په څیر پدی پړاو کی هم د وخت ټاکل اړینه خبره ده ځکه د بزگرانو ځینی کوچنی گروپونه د یاد تحلیل په تر سره کولو کی زیات وخت نیسی او باید زده کړی چی یوه موضوع په ټاکلی وخت کی تر سره کړی. بزگران د موضوع په تیارولو کی د تیری اونی د ایسا د چارټ څخه استفاده کولی شی خو کټ مټ د تیری ایسا چارټ کاپی کول جواز نلری.

## د ایسا د تحلیل شویو معلوماتو وړاندی کول (AESA Presentation)

د ساحی د معلوماتو راټولولو، تحلیل او په چارټ کی ځای پرځای کولو څخه وروسته، کوربه ټیم (په هره ایسا کی باید یو گروپ د کوربه دنده ترسره کړی) دنده لری چی نوموړی معلومات د گروپ د خلکو سره شریک او د وروستنی اجراتو او وړاندی کولو لپاره یی د گروپ موافقه واخلی. د هر فرعی گروپ نماینده به د خپل گروپ راټول شوی معلومات او موندنی د چارټ په وسیله له نورو سره شریک کړی. هر اونی به د فرعی گروپ نماینده نوبت به بدلیږی. په گروپ کی شاملی میرمنی او بی سواده غړی معمولا نه غواړی او شرمیږی چی گروپونو نمایندگی وکړی نو اړینه ده چی دوی وهڅول شی ترڅو د گروپ نمایندگی وکړی ځکه د ایسا وړاندی کول د دوی لپاره پخپل ځان د اعتماد او باور ترلاسه کولو چانس برابروی، د گروپونو هر پرزینټیشن باید د گډون والو په سوالونو او ځوابولو سره پای ته ورسیږی.

**(۴ ) انځور: د ساحی څخه په گروپی شکل د راټولو شویو معلوماتو شریکول له نورو گروپونو سره**

### 5.2. دکرنیز چاپیریال پیژندنی د معلوماتو یوځای کول (AESA Synthesis)

وروسته د هغه چی فرعی گروپونه خپل معلومات له نوروسره شریک کړی سهولت برابرونکی باید د ګډونوالو سره د ګډ بحث لپاره زمینه برابره کړی. د بحث څخه وروسته که چیری کوم کړنی یا عمل ته اړتیا وی د بیلګی په توګه د افتو له منځه وړل، د کیمیاوی موادو استعمال او داسی نور، نو سهولت برابرونکی باید د ګډون والو څخه د نوموړی کړنی په اړه و پو ښتنی ترڅو اړین ګام د ستونزی د حل په منظور ترسره او نهایی تصمیم ونیول شی او په پای کښی سهولت برابرونکی ټولی زده کړل شوی تجربی او پریکړی خلاصه کړی. کوربه ټیم باید په یاد ولری چی د نوموړی بحث پایلی او پریکړی به د راتلوونکی اونی دغونډی په پیل کی یوځل بیا تکرار کړی. د کرنیز چاپیریال د تحلیل پروسه یا ایسا هم باید په عین ورځ کی ترسره شی. د ایسا تحلیل یواځی د کرنیز چاپیریال مشاهدات او د معلوماتو ټولول ندی بلکی د دي ترڅنګ د فارم د وضعت تحلیل او بی له ځنډه د فارم د ښه مدیریت په منظور د راتلونکی لپاره پلانونه، اړینی مشوری او وړاندیزونه په برکی نیسی. په پایله کی د ایسا د تحلیل چارټونه باید په خونډی ځای کی د راتلوونکی استعمال لپاره وساتل شی ترڅو د ساحی ورځو، دفراغت او د معلوماتو د تحلیل مراسمو کی ترینه ګټه واخستل شی.

### 6. د تصمیم نیولو په اړه عمومی معلومات (Information about Decision Making)

بزګران باید د تصمیم نیولو پروخت د لاندی مواردو په اړوند پوره معلومات ولری:

- ➢ د توکو د مصارفو په هکله- Inputs costs
- ➢ د تخم د نوعی په هکله- Seeds
- ➢ د کیمیاوی سرو په هکله- Fertilizer
- ➢ افات وژونکو او دهغوی د ضررونو په هکله- Pesticides
- ➢ مزدورانو په هکله - Labor
- ➢ رفع حاصل په هکله- Harvest
- ➢ د حاصل د راټولولو او زیرمه کولو په هکله - Yield
- ➢ د تولیدی مصارفو په هکله - Price of produce

**(٥ ) انځور) د ساحی د معلوماتو د شریکولو وروسته د ګډو تصمیمونو او پریکړو نیول**

### 7. دکرنیزچاپیریال د تحلیل یا ایسا لاسته راوړنی (AESA Outputs)

د هری ایسا د ترسره کیدو څخه وروسته باید لاندی لاسته راوړنی وجود ولری:

- ➢ ځانګړی موضوع ګانی- Special Topics
- ➢ باخبره پلان نیول/ تصمیم نیونه- Informed Planning/Decision Making
- ➢ ساینس او بزګر (بزګران باید د تجاربو ترسره کولو ته تیار شی) - Science and Farmer

### II. د ګروپ ویش/فعاله ساتل (Group Dynamics)

د بزګرانو دساحوی ښوونځی د ټیم د جوړولو او فعاله ساتلو لپاره پیژندل شوی فعالیتونو ترسره کولو ته د ګروپ ویش یا فعاله ساتل وایی، د ګروپ د ویش ساتلو په منظور د کلیوالی او محلی میډیا،

مکالمی او نورو میتودونو څخه د ګروپ د ویش ساتنی په منظور کار اخیستل کیږي، د بزګرانو د ساحوی ښوونځی د فعاله ساتلو لپاره کاریدونکی میتودونه او مکالمی په لاندینی ډول مشاهده او لیدل شویدی:

- شعر ویل
- متلونه / لنډی کیسی ویل
- معما ویل
- جالبه کیسی ویل
- چک چکی کول / لاسونه پړکول
- ډرامه / ژوندی نمایش
- چای ښبل یا تازه میوه خوړل
- داسی نور.

**(۶) انځور: د ګروپ فعاله ساتنی په منظور د چای د وقفی یو انځور**

د بزګرانو د ښوونځی زیات شمیر غړی د همدی برخی نه زیات خوند اخلی او د ارامتیا احساس کوی چی نوموړی عمل د ګروپ د غړو اتفاق او فعاله ساتلو لپاره زیات ګټور دی. د ګروپونو د فعاله ساتلو عمل د هر ګروپ د علاقی او وړتیا پوری اړه لری. نوموړی محتویات د ګروپ د غړو د نوښتونو او پوهی پوری تړلی دی، د فعال ساتنی موجوده محتویات باید د یوڅه نوښتونو په لرولو سره په غوره شکلونو وړاندی کړل شی، د ګروپ فعاله ساتنی د توکو جوړولو پروخت باید کوښش وشی څو نوموړی عمل د بزګرانو د ساحوی ښوونځی د زده کړو د ښه والی په منظور له خاته سره پیغام ولری. په اکثره ساحوی ښوونځیو کی د بزګرانو د ساحوی ښوونځی داسی کلیوالی سندره کارول کیږي چی د بزګرانو ښوونځی اساساتو پیغام پکی شامل وی همدارنګه د کیسی ویل او ډرامه هم د پیغام په رسولو کی زیات ګټور دی په ځانګړی ډول بی سواده ګډون وال په اسانی سره په پیغام او مفهوم پوهیدلی شی.

### III. د ورځی ځانګړی موضوع (Today's/Special Topic)

د ورځی موضوع د دي لپاره په لاره اچول او وړاندی کیږي چی د ښوونځی د غړو د تخنیکی معلوماتو کچه لوړه شی. نوموړی عمل ته ځانګړی موضوع هم وایی ځکه چی پیدی کی مختلف موضوعات چی شاید د بزګرانو ساحوی ښوونځی سره اړیکی ونلری هم بحث کیږی لکه د روغتیا، ټولنیز ، کلتوری او داسی نور چی معمولا ځانګړی موضوع ۳۰ دقیقی څخه تر یو ساعت پوری دوام کوی. د دي لپاره چې دا برخه زیاته بحث کیدونکی او هراړخیزه شی نو، سهولت برابرونکی باید ګډون وال په کوچنیو ګروپونو په بحث کی د ګډون په منظور وویشی او د زیاتی برخی اخستنی لپاره یی وهڅوی.

د برګرانو ساحوی ښوونځی د عملي زده کړو ( لیدل باورکول) لپاره ګډون وال هڅوی او نوښتونو ته لاره پرانیزی. په هرحال، د بزګرانو په ساحوی ښوونځیو کی د زده کړو په وړاندی یوڅه محدودیتونه هم وجود لری، هغه موضوع ګانی چی د ښوونځی په درسی نصاب کی نه وی شامل باید د بحث لاندی ونه نیول شی او یوازی بحث شوی موضوعات وڅیړل شی ځکه چی د ځانګړو موضوع ګانو موخه همدا ده چی د زیاتره بحث کیدونکو موضوعاتو د اساساتو په هکله کوم چی د بزګرانو د ساحوی ښوونځی په درسی نصاب کی شامل نه وی لاره خلاصه شی او خالیګاوی له مینځه یوسی. ځانګړی موضوع ګانی په دوه ډوله دی:

1. د بزګرانو د ساحوی ښوونځی د پروګرام یا پروژی اړوند موضوع ګانی
2. د پروګرام یا پروژی څخه علاوه نوری موضوع ګانی.

**1.1. د پروژې یا پروګرام پورې اړوند موضوع ګانې (د جارې پروژې د تطبیق په اړوند):** هغه ځانګړې موضوع ګانې (دنن ورځې موضوع) چې معمولا د پروژې پورې اړه لرې عبارت دی له د ځنګلاتو او زراعت تولیدی سیستمونه چې پدې کښې د ځمکې برابرول ، د بوزغلیو روزنه او انکشاف، دتخم کرنه او داسې نور پکې شامل دی. د مثال په ډول که چیرې ګروپ د بوزغلیو د انتقال عملیه ترسره کوی نو سهولت برابرونکی باید نوموړې ځانګړې موضوع د عملی کار نه مخکې تشریح کړې وی ځکه چې پخپل وخت د نوی مفهوم او ساساتو پیژندنه او تشریح د بزګرانو د ساحوی ښوونځی ګډون وال د موضوع په زده کړه کې تشویق او ورسره یې اشنا کوی چې داکار اقلا یو ونې مخکې ترسره شي ترڅو ګډون وال د خپل پروژې ستونزې پیداکړې او سهولت برابرونکې ورته د ځانګړې موضوع په ورځ د حل لارې چارې په ګډه پیدا کړې. د دي ترڅنګ، کله چې د بزګرانو لخوا داسې یوه ستونزه په نښه شي چې په اړوند یې د سهولت برابرونکې پوهه کمه وی نو سهولت برابرونکې باید د کرنې د ریاست او یاهم نورو مسلکی ادارو څخه د امکاناتو په صورت کې یو متخصص ته د نوموړې ستونزې د حل په منظور بلنه ورکړې.

**1.2. د پروګرام یا پروژې څخه پرته نورې موضوع ګانې (د بزګرانو د اړتیاوو په اساس):** د بزګرانو د ساحوی ښوونځی د غړو د اړتیا او علاقې وړ هره موضوع کیدی شي د ځانګړې موضوع په توګه وټاکل شي. د نوموړې موضوع ګانو اصلی موخه داده چې بزګرانو ته فرصت ورکړل شي تر څو د هغو بیلابیلو موضوعاتو په هکله زده کړې وکړې چې د تولیداتو په زیاتوالی او د دوی د ژوند په بهتره کیدو کې کومک کوی.